څخه د پيژندګلوی نښې په توګه ناوړه ګټه اخيستنه د عامو خلکو په وړاندې د هغه ارزښت کموی او د جګړې پرمهال د هغه ملاتړيز( حمايوی) ځواک ته هم زيان رسوی.

د نښان څخه د ملاتړيز( حمايوی) موخې په توګه ناوړه ګټه اخيستنه، د سره صليب نړيوالې کميټې او ملي ټولنو دنده ده چې ښکيلو لورو ته د خپلو دندو په هکله يادونه وکړي ترڅو د نښانونو درناوی وکړي او دهغو کسانو په وړاندې چې له نښان څخه ناوړه ګټه اخلي لازم اجراآت تر لاس لاندې ونيسي.

د نښان په وړاندې درناوي په لومړي پړاوکې مسووليت دولتونوته متوجه کيږي، په هغه صورت کې چې وليدل شي له نښان څخه د ملاتړيز( حمايوي) وسيلې په توګه ناوړه ګټه اخيستنه کيږي، د سره صليب نړيواله کميټه، اړوندو ملي ټولنوته خبر ورکوي او له هغوي څخه غوښتنه کوي چې لازم اجراآت ترلاس لاندې ونيسي ترڅو له دغې کړنې څخه مخنيوي وشي او د اړتيا د محسوس کيدو په صورت کې با صلاحيته مسوولينو ته هم خبر ورکوي.





د اړيکي شميرې:۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳ / ۰۷۹۹۶۵۲۸۹۳

پوسټ بکس: ۳۰۶۶

برښناليک پته: dis@redcrescent.af

ويب پاڼه: www.redcrescent.af

**افغانستان، کابل، پنځمه ناحيه، افشار سيلو، د افغاني سرې مياشتې ټولنې مرکزي دفتر**

# د سره صليب او سرې مياشتې نړيوال غورځنګ

# نښانونه

## ۱۳۹۶

د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ نښانونه، د غورځنګ د مرکبو( د سره صلیب نړیواله کمیټه، د سره صلیب او سرې میاشتې ملي ټولنو او د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون) د بشرپال هویت او پیژندګلوي ښکارندوی دی، دا نښانونه د جګړې قربانیانو او طبیعي پیښو ځپلو ته د بې توپیره مرسته رسونې نښه بلل کیږي .

د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ د اسنادو له مخې د نښان د پخواني تاریخ څخه څرګندیږي چې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۶۳ کال کې د جنیوا په نړیوال کنفرانس کې د سره صلیب نښان په سپینه ځمکه کې چې د سویس هیواد د نښان معکوس دی، د غورځنګ بنسټ ایښودونکي ته د درناوي پخاطر چې د هغه هیواد تبعه دی، د جګړې ټپیانو ته د مرستندویو ټولنو(ملي ټولنو) د ځانګړي نښان په توګه ومنل شو. او په ۱۸۶۴ کال کې د سره صلیب نښان د سیاسي کنفرانس له لارې د پوځي روغتیایي خدمتونو د ځانګړي نښان په توګه، د ۱۸۶۴ کال د جینوا د لومړي قرارداد د تصویب ترڅنګ د تائید وړ وګرځید.

د ۱۸۷۶کال په بالکان جګړه کې عثماني



امپراطوری پریکړه وکړه،د سرې میاشتې نښان د خپلې ملي ټولنې د هویت پیژندنې لپاره وکاروی او دا وړاندیز د غورځنګ په نړیوال کنفرانس کې د تائید وړ وګرځید،له هغه وروسته ځینو هیوادونو د خپلو ملي ټولنو لپاره د سرې میاشتې نښان غوره کړ.

په ۱۹۲۹ زیږدیزکال کې د سیاسي کنفرانس په ترځ کې د روغتیایي ټیمونو د پیژندنې لپاره ( د ایران شیر خورشید سرخ) نښان په رسمیت و پیژندل شو او په ۱۹۸۰ زیږدیزکال کې د ایران اسلامی جمهوریت د دغه نښان پرځای د سرې میاشتې نښان خپلې ملي ټولنې ته غوره کړ.

او د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ په نه ویشتم نړیوال کنفرانس کې چې د ۲۰۰۶ کال د جون میاشتې په ۲۱-۲۲ نیټه د تایلند هیواد په بنکاک ښارکې جوړ شوی وه او په هغه کې د ملي ټولنو او غورځنګ او هیوادونو ۱۵۷۶ غړو ګډون کړی وو د دریم الحاقی پروتوکول په قالب کې د غورځنګ د دوه نورو نښانونو( سور صلیب، سره میاشت) ترڅنګ دریم نښان د سور کرستل په نامه په تصویب ورسید، د نوموړي مصوبې پر بنسټ ملي



ټولنې کولای شي د خپل هویت د پیژندلو لپاره د سورکرستل نښان هم وکاروی .

په دې توګه د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ درې نښانونه ( سره صلیب، سره میاشت او سورکرستل) لري، د نښان څخه د ملاتړیز( حمایوی) وسیلې په توګه ګټه اخیستنه ددې څرګندوی دی چې د هغه پر بنسټ ( پوځي روغتیایي کارکوونکي، د ملي ټولنو کارکوونکي او رضاکاران، د سره صلیب نړیوالې کمیټې او د ملي ټولنو نړیوال فدراسیون کارکوونکي) روغتیایي ټیمونه ( روغتونونه، د لومړنیو روغتیایي مرستې مرکزونه) او د نوموړو افرادو او تاسیساتو د وړلو راوړلو وسایط خوندي دي او ساتنه یې کیږي.

د پیژندګلوي وسیلې په توګه د نښان کارونه څرګندوي چې شخص او شې د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوال غورځنګ پورې تړاو لري.

د جګړې پر مهال له نښان څخه د ملاتړیزې موخې په توګه ناوړه ګټه اخیستنه د ملاتړیز( حمایوی) اصولو څخه سرغړونه بلل کیږي چې په نړیوال بشرپال قانون کې ترې یادونه شوي ده.

د سره صلیب او سرې میاشتې له نښان